احسان‌الله اریبنزی

۲۰۲۳/۰۸/۱۲

# نړیوالې ټولنې

## ۷۲ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**

**اروپایي ټولنې**

**۲-- د ازادې سوداګرۍ اروپایي ټولنه European Free Trade Associtation( EFTA)**

وروسته له دې چې د اروپا د بیا ودانولو له پاره، مارشال پلان د OECD له خوا تطبیق شو، د ستاکهولم (سویډن) کنوانسیون (۱۹۶۰ د جنوری ۴) د ازادې سوداګرۍ د اروپاییټولنې په جوړېدا سلا وکړه او پرېکړه وشوه چې په غړو هېوادونو کې، د بومي تولیداتو سوداګرۍ هې څډول محدودیت نه لري.
د مارشال د پلان پای ته رسېدو اروپایي هېوادونه دې ته اړ کړل چې د اقتصادي پرمختګ له پاره، سوداګرې راکړه ورکړه پراخه او آسانه کړي.[1]
باید وویل شی چې د اقتصادی همکاریو او پراختیا د اروپایي ټولنې یا OECD ، د وزیرانو په هغه غونډه کې چې په کال ۱۹۵۶کی جوړه شوه، برتانیا د سوداګرۍ د یوې ازادی سیمې د جوړولو وړاندیزپه میز کېښود. که څه هم چې دا خبرې د فرانسی د مخالفت له امله، په ۱۹۵۸ کې پای ته ورسیدې؛ خو د OECD د نورو غړو هیوادونو وزیرانو پرېکړه وکړه چې د ازادیسوداګرۍ د یوه تړون د لاسلیک له پاره به زیار باسی. او همغه و چې دا ارمان په ستاکهولم کی پوره شو او برتانیا، استریا، پرتګال، دنمارک، سویډن، سویټزرلند او ناروې د FETA بنسټ کېښود. لیختن شتاین د ۱۹۶۰ په می، فنلند په کال ۱۹۶۱ او ایسلند په ۱۹۷۰ کې د دېټولنې غړې شول.
په کال ۱۹۷۳ کال کې برتانیا او دنمارک چې د اروپاییټولنې غړیتوب یې ترلاسه کړي و، له دې ټولنې څخه ووتل؛ خو د دېټ ولنې غړو د آزادې سوداګرۍ په برخه کې، د اروپا له اقتصادي ټولنې سره خو تړونونه لاسلیک کړل.
له ۱۹۶۷ کال راهیسې د ازادې سوداګرۍ د اروپایي ټولنې غړو هېوادونو ترمنځ، ګمرکي محدودیتونه له منځه لاړل او اوس په خپل منځ کې په ازاده توګه سوداګري کوي.[2]

جوړښت:
شورى: دا د دې ټولنې یوازنې اداره کوونکی ارګان دی چې د ټولو غړو هېوادونو د استازي په ګډون جوړېږي او پرېکړې د رایو په اتفاق و.[3]

**۳- د ډبرو سکرو او پولادو اروپایي ټولنه European Coal and Steel Community (ECSC)**

دا ټولنه د کتاب په پای کی راغلی؛ ځکه چې اوس فعاله نه ده.

---

[1] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۴۷-۳۴۶
[2] سازمان های بین المللی محمد، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۴۹ ۱۹۷
[3] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۱۹۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ